مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۳/۰۷/۱۱

# ځلوريځې

د معرفت نظر

د زړه په ســـترګو، قدرتونه د سبحان ووينه
په روښـــــانه زړه ، حکمتونه دجهان ووينه

چې لويي او د غرور، له غلامۍ نه شي آزاد
د معرفت په نظر، يو ځلي خـپل ځان ووينه

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د عاجزۍ درک

د دردمنو مې په حـــال شـول ، قلم ژړونه
چې احساس يې کړل ، زما د زړه دردونه
کاتبـــان مې د کرام ټول ، په ژړا ، کړل

چې له اوښکو نه مې جوړ کړل ،دریابونه

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د زړه ثنا

د هر درز سره د زړه مې ستـــا ثنا ده
ستـا په ياد کې مې بايللي دا دنيـــا ده

يو نفس داستـــــا له ياده ، غافل نه يم
هر نفس کې ستا وصال مې ، تمنا ده

««««««««««««««««««««««««««««««««««

خوږمن زړه احوال
چا چې وهلی ستا په رخســــــار باندی خال
کاشکې يې پوښتلای ، زما د زړه وای احوال

چې د دردمنو په ژړونو به خــــــه تيريږي
چې مې ورکړي وای د خوږمن زړه احوال


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولـئ

««««««««««««««««««««««««««««««««««««««

له خاورو پیدا

تر څو به ځــــــان بولو ، يو بل ښـــخه جلا
په معنــی کي چي پیدا یو ، له یو اجـــــزا

فرق به زمونږ په مينځ کي څه وي غافلانو
چي د سپیرو خـــاورو عالـــم شي ، ټول پیدا

«««««««««««««««««««««««««««««««««««««

غنیمت وخت

چي په لاس کي مو درغلی دي ، فرصت
ويي شمیرئ ، دغـــــــــه دم کي غنیمت

هر لمحــــــي کي زمانه کړي خبرتیـــــا
چي زمان در نه تیریږی ، په غفـــــــلت

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

انسانی احساس

چي احساس د انسانی لری ، په سر
طرفدار وي ، د حـقوقو د بشــــــــر

په دنیا کي ، د مردانو داصــفت دی
چي يي تل وي ، په عالم باندی نظر

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د وخت غوښتني

د وخت د خواهشاتو او تقـــاضو سره سم
باید چي واخــــلو په چټــــکي کي قـــدم

دنیا تســـــخیر، د کـــــاييناتو کــــــــوی
مونږ تینده کونه وهو ، د نادانی په تورتم

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

فانی دنیا

زه نا پوهه ، په خپل ځان باندی غره یم
د فاني دنيــــــا له مکره ، خـــبر نه یم

د عبرت په غوږو تل دا تــــــکی اورم
چي يو څو ورځي فــــــانی دنیا میلمه یم


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من يو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولـئ

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

شر خوشونکي وګړي

چي مخربه ســــــلاح ګاني ، په خپل سر جوړوی
د ټول عالـــــــم د امنیت د پاره شر ،جـــوړوی

د انسانانو په شمیرکي نه وي ، هغــــــه بیدردان
هغوی چي دي ښکلي نړی ته ، لوی خطر جوړوی

»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»»

د آرزو درمند

غمونه ډیر شـــول ، په هر کـلي او کور
نور مو نشته ، په جهان کي ،یو غمخور

امیدونه ، ټول د خـــاورو سره یو شول
د آرزو په دردمـند، ولــګــــــیده اور

««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««««

بی خبره ځوانان

ځوانان له خپــــله اصلیت ، بی خبر
همنشینی ، له نزاکـــــــت ، بی خبر

په بیدردی کي ، په کوڅو کي دي سر
له دردو غم د خــــــپل ملت بی خبر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ